# چرګه او عقاب

Ann Nduku
Wiehan de Jager
Darakhte Danesh
3
پښتو ps

وو نه و، چرګه او عقاب سره ملګري ول. دوی له نورو ټولو مرغانو سره په سوله او خوښۍ کې ژوند کاوه. دوی کې هېڅ یو هم نه شو الوتلی.

یوه ورځ پر ځمکه قحطي راغله، عقاب اړ و چې د خوراک پیدا .
کولو لپاره لرې ځای ته سفر وکړي، په دې وخت کې چرګه سترې
ستومانه راغله او ورته یې وویل، "باید په داسې لاره سفر وکړو
چې له ستونزو سره مخ نه شو."

چرګې ته د شيې د خوب په وخت کې دا فکر ولوېد، چې د نورو مرغانو د وزرونو بڼکې را ټولې کړي. همداسې يې وکړل. د نورو مرغانو وزرونه يې راټول کړل او له خپلو وزرونو سره يې وګنډل. چرګې وويل، ”دا چاره به زموږ سفر اسانه کړي.“

عقاب په کلي کې یواځینی مرغه و چې ستنه یې درلوده، د وزرونو په ګنډلو یې پیل وکړ، ځانته یې دوه ښکلي وزرونه جوړ کړل، او له چرګې څخه اوچت والوته. چرګې چې ستن نه درلوده او له بل چا یې قرض اخیستې وه، له ګنډلو څخه ستړې شوه او د خپلو بچیو لپاره د خوراک چمتو کولو لپاره پخلنځي ته لاړه.

کله چې نورو مرغانو د عقاب الوتل ولیدل له چرګې یې ستنه واخیسته، خپلو ځانو ته یې وزرونه جوړ کړل او له عقاب وروسته دوی ټول والوتل.

وروستي مرغه چې وزرونه جوړ کړل، ستنه یې بیرته چرګې ته راوړه، خو چرګه نه وه او د چرګې بچیانو ته یې ستنه ورکړه، چې ویې ساتي، خو دوی لوبې ورسره وکړې، د لوبې وروسته دوی ستړي شول او په شګو کې ترې هیره شوه.

کله چې له سفر وروسته عقاب کلي ته را ستون شو، چرګې ته یې
وویل، "ستنه راکړه، چې خپل شکیدلي وزر پرې وګنډم". چرګې
الماری ته وکتل، بیا یې په پخلنځي کې ستنه ولټوله خو ټولې
هڅې یې ناکامي وې او ستنه یې پیدا نه کړه.

چرګې له عقاب څخه یوه ورځ وخت وغوښت، چې ستن ورته پیدا کړي، عقاب وویل، "سمه ده یوه ورځ وخت درکوم خو که دې پیدا نه کړه له تا وزرې اخلم او ځمه."

عقاب يوه ورځ وروسته راغئ، ګوري چې چرګه شګې لټوي، خو ستن يې ونه ليده. عقاب غوصه شو او په ډېره چټکۍ سره يې له چرګې وزرونه واخيستل.

. کله چې د عقاب سیورى پر ځمکه را ښکاره شو، چرګې خپلو
چوړګوړو ته وویل لوخ را ووځئ، چوړګوړو وویل، “موږ نادانه نه یو،
که در ووځو عقاب موږ ته تاوان را رسوي.”

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## چرګه او عقاب


Ann Nduku
Wiehan de Jager
Darakhte Danesh